## د Druid Hills عالي ښوونځي د لومړي کال زده کوونکو نړیوال نوښت د لمر له زیانونو پر وړاندې سیوري رامنځته کوي

### په ټول DeKalb کاونټي کې عامه ځایونو ته د سنسکرین ډسپنسرونه راوړي




د بلوغت د ننګونو او په خپلو بدنونو کې د نورو بدلونونو له امله د منځني ښوونځي دوره تنکیو ځوانانو لپاره په ټولنیز ډول یو ستونزمن وخت کېدی شي. یو له خورا عامو اندېښنو څخه د ځوانکو ځرګندېدل دي کوم چې زیاتره وختونه د ملګرو لخوا منفي تبصرې رامنځته کوي. ښایي په دې خبره پوهېدل تنکیو ځوانانو لپاره ستونزمن وي چې د دوی په پوستکي څه پېښېږي او د هغې لپاره باید څه وشي.

د منځني ښوونځي پرمهال Ellis Schroeder د پوستکي یوې سختې ناروغۍ سره مخ شو کومه چې د rosacea په نوم یادیږي او لا هم دوام لري. د امریکا د ډرماتولوژۍ اکاډمۍ (AAD) د ورکړل شوي راپور له مخې Rosacea د پوستکي یوه عامه ناروغي ده چې نژدې 16ملیونه امریکایان یې اغیزمن کړي. اوس مهال د Druid Hills په عالي ښوونځي کې د 11 ټولګي زده کوونکی Ellis د پوستکي د دغې اوږدمهاله التهابي ناروغۍ له امله زیاتره وخت د پوستکي سور رنګ او په پوزه او غومبورو باندې داغونو سره مخ وي

په منځني ښوونځي کې د خود اعتمادۍ زیاتې ستونزې شتون لري. Ellis وویل چې زه د ساینس په ټولګي کې د خپل یو ښوونکي لخوا له قطار څخه را وایستل شوم او ښوونکي له ما څخه وپوښتل چې ستا په مخ څه شوي. زما په ټولګیو کې خلکو لا دمخه له ما څخه پوښتنه کوله چې آیا ما ګلابي رنګ لګولی یا ما میک اپ کړی او دا پوښتنه به یې هم کوله چې زما په مخ څه شوي دي. دی کار زما اعتماد ته لوی تاوان ورساوه.

Ellis د خپلو حالاتو او د پوستکي هغو نورو ناروغیو په اړه تحقیق پیل کړ کوم چې په عمومي ډول په تنکیو ځوانانو باندې اغیزه کوي. هغه د ډرماتولوژیستانو د څېړنیزو مقالو پلټنه وکړه او په یوټیوب کې یې د rosacea او د پوستکي د نورو ورته ناروغیو په اړه ویډیوګانې ولیدلې. هغه هڅه وکړه چې خپلو ټولګیوالو ته خپله ناروغي بیان کړي خو ډېر ژر په دې پوهه شو چې هغوي د پوستکي د ښه روغتیا په اهمیت نه پوهیږي.

Ellis وویل چې موږ خورا قوي روغتیایی معلومات نه لرو په ځانګړې توګه د خپل پوستکي په اړه. "دې خبرې زه دې ته وهڅولم چې د DermaTeens په نوم یو سازمان پیل کړم کوم چې د پوستکي روغتیا او د لمر څخه خوندیتوب ته وده ورکولو لپاره د تنکیو ځوانانو روزنې ته وقف شوی دی."



DermaTeens په 2021 کال کې د پوستکي د بیلابیلو ناروغیو په اړه د معلوماتي مقالو رامنځته کولو لپاره د یوې پروژې په توګه تاسیس شوی و. Ellis د ناروغیو د کنټرول او مخنیوي مرکزونو او د AAD څخه معلومات وڅیړل ترڅو معلوماتي مقالې رامنځته کړي. په Augusta کې د Pediatric Partners د وینا له مخې، ځوانکې، اکزیما، لړمې، پسوریاز او rosacea د پوستکي له ځینې هغو عامو ستونزو له جملې څخه دي چې په تنکیو ځوانانو اغیزه کوي.

د لوستونکو نظرونو کې د زیاتوالي له لیدلو څخه وروسته Ellis د DermaTeens برنامه په ټوله نړۍ کې 50 تنکیو ځوانانو ته پراخه کړه. دا سازمان د پوستکي د روغتیا په اړه د معلوماتو شریکولو اراده لري او د روغتیا د خرابوالي مخه نیسي کوم چې په تنکي ځوانانو اغیز کوي.

Ellis وویل چې دا موږ بیلابیلې برنامې ترسره کولو ته هڅوي. "موږ د Atlanta Mission Homeless Shelter لپاره له لمر څخه د بچ کیدلو پیکېجونه، د حفظ الصحې محصولاتو یو کټ او د اړتیا وړ مهم توکي رامنځته کړل."

DermaTeens اوسمهال په عامو ځایونو کې د سنسکرین ډسپنسرونو د نصبولو پشمول په زیاترو پروژو کې ښکیل دی. په 2022 کال کې Ellis د IMPACT Melanoma سره خپلې هڅې یو کړې ترڅو د Druid Hills په سیمه کې د Zonolite په پارک کې دولس عامه سنسکرین ډسپنسرونو لپاره بودیجه برابره کړي او نصب یې کړي. IMPACT Melanoma په متحده ایالاتو کې یو مخکښ غیر انتفاعي سازمان دی چې د پوستکي سرطان په پیښو کې د پام وړ کموالی راوستلو او خلک د مړینې څخه د ژغورلو لپاره وقف شوی.

IMPACT Melanoma د خپلې "د کار پرمهال زموږ خوندي پوستکی" برنامې لاندې لاسي او د فعالیت لپاره لاسونو ته اړتیا نه لرونکي سنسکرین ډیسپنسرونه وړاندې کوي. د تل په څیر له فرصت څخه ګټه پورته کوونکي Ellis د ډسپنسرونو لپاره د پیسو راټولو په خاطر د تمویل یو کمپاین په کار واچولو او وتوانید چې په تیر اوړي کې د Zonolite په پارک کې ډسپنسرونه نصب کړي.

هغه وویل چې ما له [IMPACT Melanoma] سره اړیکه ونیوله او هغوي ته مې وویل چې ما غوښتل دا خپلې ټولنې ته راوړم. دا یوه ډیره پخپله پرمخ وړل شوې پروژه ده چې له لارې یې زه باید د پارکونو او تفریحی ځانګو سره د تمویل او شراکت غوښتنه وکړم."

Ellis د خپلې پروژې په اړه د ایمیل له لارې د DeKalb کاونټي له کمیشنرانو سره اړیکه ونیوله. کمیشنر Ted Terry سمدستي ځواب ورکړ او په خبرو کې یې د DeKalb کاونټي د پارکونو او تفریحي ځانګو مدیر Chuck Ellis هم شامل کړ. دوی اوس په Toco Hills سیمه کې چې Ellis پکې اوسیږي د DeKalb کاونټي د ځوانانو کمیسیون په نوم د هغه سازمان سره په ملګرتیا چې Ellis پکې کار کوي د ډسپنسرونو نصبولو په برخه کې همکاري کوي. دا خبره ټاکل شوې چې د نصبولو کار به د دې پسرلي په وروستیو کې ترسره شي. په راتلونکي کې دوی په ټوله کاونټي کې د ګالف او ټینس په مرکزونو او لارو کې هم د ډسپنسرونو د نصبولو امکان لټوي.

DermaTeens د پوستکي روغتیا په اړه د ناسم معلوماتو د خپریدو سره د مبارزې لپاره یو ماموریت په غاړه لري. د مثال په توګه یو داسې عمومي غلط فکر شتون لري چې افریقایي الاصله امریکایان په مخونو باندې سنسکرین لګولو ته اړتیا نلري. په هر صورت دا سمه خبره نه ده. AAD وایي چې د نسواري او تور رنګ پوستکي لرونکو پشمول هر رنګ پوستکی لرونکي خلک د پوستکي سرطان لپاره حساسیت لرونکي دي. له همدې امله هر رنګ لرونکي خلک اړتیا لري چې د پوستکي سرطان د خطر کمولو لپاره سنسکرین ولګوي.

"Ellisوویل چې زما په مور کې د سیني د انتقالي سرطان تشخیص او بیا زما په ترور کې د پوستکي د سرطان تشخیص ما ته دا خبره روښانه کړه چې د پوستکي روغتیا څومره لویه ستونزه کیدی شي او دا چې د هر عمر او د هر رنګ پوستکي لرونکو خلکو لپاره دا خبره څومره اړینه ده چې له لمر څخه خوندیتوب عملي کړي او د دی په ډاډمن کولو تمرکز وکړي چې د دی ډول شیانو مخنیوي لپاره د دوي بدن روغ دی.

Ellis وویل چې خپلو همکارانو او نورو خلکو ته د پوستکي روغتیا په اړه معلومات ورکول د ځواکمنتیا احساس رامنځته کوي او هغه دې ته تشویقوي چې د عامې روغتیا په برخه کې مسلک په پام کې ونیسي. هغه هیله لري چې د هغه کار به نور ځوانان هم وهڅوي ترڅو په خپله ټولنه کې مثبت بدلون راولي په ځانګړې توګه د هغه ستونزو په هکله چې دوی یې په اړه لیوالتیا لري.

Ellis وویل که چیرې تاسو په ریښتني توګه خپلې سترګې هغه څه ته خلاصې کړئ چې ستاسو شاوخوا پیښیږي نو تاسو په ریښتني توګه هغه ستونزې په ګوته کولی شئ چې تاسو ورسره مخ کیږئ او هغه ستاسو د خفګان او غوسې لامل کیږی او د حل لپاره یې لارې ومومئ. "دا کار خورا د اطمینان وړ کیدی شي."

مهرباني وکړئ د DermaTeens په اړه د نورو معلوماتو لپاره په لاندې لینکونو کلیک وکړئ.

- https://dermateens.wixsite.com/dermateens
- https://www.instagram.com/dermateens/
- https://www.youtube.com/watch?v=nxqgtIJ_B3A

- https://www.linkedin.com/company/dermateens
- https://impactmelanoma.org/meet-ellis-schroeder-your-skin-is-in-/ambassador-and-founder-of-dermateens